مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڼ
۲۰۲۴/۱۰/۰۵

# د یهودو عادلانه جګړې

## (نهه پنځوسمه برخه)

### د اسراییلو د دویم معبد سوځول او لویه جلاوطني (تبعید)

وروسته له عیسی مسیح څخه اسراییلو ته بل پیغمبر یا نبي نه دی راغلی،[1] یوازې د انجیلونو څلور تنه لیکوالان، متی، لوقا، مرقُس او یوحنا چې عیسویان یې د عیسی مسیح رسولان بولي لیدل کیږي.
آسمان ته د عیسی مسیح له پورته کیدو شاوخوا څلوېښت کاله وروسته په اورشلیم کې یهودو د رومیانو پر وړاندې بغاوت وکړ، په لومړیو کې رومیانو اسراییلو ته یو څه خپلواکي ورکړې وه خو یهودان په دې هیله وو چې له رومیانو بشپړه خپلواکي تر لاسه کړي، نو په ۶۶ ز، کال کې یې د رومیانو پر وړاندې بغاوتونه پیل کړل، د دغو بغاوتونو په لړ کې «په کال ۷۰ ز، کې په فلسطین کې د یهودانو لخوا بغاوت او پراخې سرکښۍ رامنځ ته شوې چې له وړاندې یې تمه کیده، رومي سرتېرو د روم د امپراتور د زوی (تی توس) په قوماندانۍ، د اورشلیم ښار پنځه میاشتې کلابند کړ چې په پای کې سپیڅلي ښار [اورشلیم] سقوط وکړ، دغې کلابندۍ ډېرې ناوړه پایلې درلودلې، د قحطۍ او وژنو له امله یو میلیون [؟] یهودان له منځه ولاړل، رومي سرتیري چې د یهودانو د اوږده مقاومت له امله په قهر شوي وو، په وژنو او لوټ تالان پیل وکړ، معبد یې لوټ او بیا یې وسوځاوه،[2] د معبد لوړ بیه غنیمت شوي توکي یې روم ته یوووړل، سل زره یهودان یې اسیران او په غلامۍ وپلورل، یهودان په ټوله نړۍ کې خواره واره شول.»[3]

«د یهودو د دغې ماتې او د دوی د معبد له ویجاړولو وروسته د هغوی د عبادت او قربانۍ مراسم ودرول شول، د صدوقیانو مذهبي ډله او نورې ډلې ټپلې له منځه ولاړې، یوازې د فریسیانو ډله پاتې شوه چې تر ځنګ یې یوه بله نوې بدعتي ډله د مسیحیانو په نوم هم رامنځ ته شوه چې یو او بل ځای کې لیدل کیدله. رومیانو وکړای شول د یهودانو دین وپاشي او د یهودو قوم په نړۍ کې تیت او پرک کړي چې وروسته له هغې د یهودو عبادتځای په اورشلیم کې پاتې نه شو، پرته له دې چې پر خپل قوم او خپلواکۍ ویر او ماتم وکړي نور څه ورته پاتې نه شول.»[4]

---

1: یهودان عیسی د پیغمبر په توګه نه مني، تر دې چې هغه مرتد بولي.
2: د یهودو د زروبابل معبد نږدې ۵۰۰ کاله ولاړه ؤ چې بیا وروسته خرابۍ په کې رامنځ ته شوې او د هیرودیس لخوا ورغول شو.
د روم امپراتور (یولیانس) په ۳۶۳ز، کال کې د اسراییلو د وران شوي معبد د بیا جوړولو هڅه وکړه، هغه د معبد د بیا جوړولو لګښت له خپلې خزانې ورکړ چې له امله یې یهودان ډېر خوشاله وو. وایي چې هغه مهال چې کارکوونکي د معبد د بنسټ په کیندنو لګیا وو چې له ژورو کندو څخه اور پورته شو او کارکوونکي ووېریدل، اور، لوګي او دوړې دومره ډېرې وې چې هغه ځای توره تیاره شو او کار ودرید خو چې کله یې بیا په کار پیل وکړ، یو غیبي ځواک د کار مخه ډب کړه، کارګرانو خپل سامانونه وغورځول او د سختې وېرې له امله وتښتیدل. اوس مهال د معبد پر ځای د (قبةالصخره) مسجد ودان دی. قاموس کتاب مقدس: لیکوال او فارسي ژباړه د مستر هاکس. ۹۳۵مخ.
3: هاشم رضا: ادیان بزرګ جهان. ۵۴۵مخ.
4: ادیان بزرګ جهان.۵۵۵مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یهودو د معبد او د اورشلیم ښار له ورانولو شپیته کاله وروسته هغه یهودان چې په فلسطین کې پاتې او نوی نسل رالوی شوی وو، د رومیانو پر وړاندې له دې کبله بغاوت پیل کړ چې کله د روم قیصر (هادریانوس) هغې سیمې ته تللی ؤ او د اورشلیم ویجاړی یې لیدلي وې، نو امر یې وکړ چې هغه ښار دې بیا ورغول شي **او د یهوه د وران شوي معبد پر ځای دې د (یوپیتر) په نوم د رومیانو د خدای معبد جوړ شي.** هغه مهال چې هادریانوس له شام څخه روم ته ستون شو، نو یهودانو بیا ځلې توري ته لاس کړ او د خپل دین د ملاتړ په موخه د (عقیبه) نومي په مشرۍ یې پاڅون وکړ او د جګړې اور یې بل کړ. هادریانوس د دغه خبر په اوریدلو سخت په قهر شو، امر یې وکړ چې یاغي باغي یهودان دې له یوه سره ووژل شي. دا یې هم وویل چې هر څوک چې د سبت (شنبې) د ورځې، یا د ختنه کولو مراسم ترسره کړي او یا څوک تورات تلاوت کړي نو د سرکښی په جرم دې ووژل شي.

د یهودو او رومي ځواکونو ترمنځ درې کاله جګړو دوام وکړ چې په پای کې یهود میشتې سیمې په مکمله توګه ورانې او ویجاړې شوې **او رومیانو د یوپیتر معبد د اسراییلو د معبد په ویجاړ شوي ځای باندې جوړ کړ**[5] چې له هغه سره نږدې د رومیانو یو پوځي میشتځای هم جوړ شو. هېڅ یهودي ته اجازه نه وه چې هغه ځای ته ورشي ... یوازې د اسراییلو د معبد د ورانولو ورځ چې [تیشا باف یې بولي] [6] په کال کې یو ځل اجازه ورکول کیدله چې دننه ورشي او د ویجاړ شوي معبد له هغه دېوال سره چې له پخوا روغ پاتې شوی ؤ، ودریږي او د خپل هېواد او قوم په ورکیدو وژاړي، دغه دېوال د ندبې (ندبه)[7] په نوم یادیږي چې د یهودو دغه دود لا تر اوسه هم پاتې دی.»[8]

د اسراییلو د لومړي معبد د ورانولو په اړه اسراییلي انبیاوو څو ځلې وړاندوینې کړې وې، مخامخ د اسراییلو خدای یهوه ویلې وو چې «زه به خپل کور له خاورو سره خاورې کړم.»[9] خو د دویم معبد د ورانولو په هلکه ښکاره وړاندوینه نه ده شوې، یوازې عیسی مسیح د دویم معبد د ورانولو په اړه وړاندوینه کړې وه، وایي چې «عیسی د خدای کور [معبد] څخه د وتلو په حال کې ؤ چې مریدان یې راغلل، د خدای کور د ودانۍ [جوړښت یې] ورته وښود، عیسی وویل: **دې ټولو ته وګورئ، زه تاسو ته دا وایم چې دلته به یو کاڼی هم د بل پر سر پاتې نه شي، ټول به ونړول شي.»** (د متی انجیل:۲۴/۱-۲)

هغه مهال چې یهودو عیسی مرګ ته روان کړی ؤ، یوه لویه ډله ویرجنې ښځې چې خپلې سینې یې وهلې په عیسی پسې روانې وې، عیسی هغوی ته د اسراییلو د راتلونکې تباهۍ چې په هغه کې د معبد تباهي هم راتله وویل:**«ای د اورشلیم جلکیو! زما لپاره اوښکې مه تویوئ، د خپلو ځانونو او خپلو اولادونو لپاره وژاړئ،** یوه شئ چې داسې ورځې راتلونکې دي چې وبه وایي: بختوري دي شنډې [ښځې] چې ماشوم یې نه وي زیږولی او تی یې نه وي ورکړی. هغه مهال به غرونو ته ووایئ: پر موږ راپرېوځئ. او غونډیو ته به ووایئ: موږ پټ کړئ. کله چې له لاندو لرګیو سره داسې کیږي، نو له وچو لرګیو سره به څه وکړي؟.»
(د لوقا انجیل:۲۳/۲۸تر۳۱پورې)

---

[5]: هغه مهال چې د روم امپراتور لومړي قسطنطین عیسوي دین ومانه، نو بتپرستي یې منع کړه او په اورشلیم کې د یوپیتر معبد یې هم له منځه یوړ. داسې ښکاري چې نوموړی معبد به د څلورمې زیږدیزې پیړۍ په اوږدو کې له منځه وړل شوی وي. (انترنیټي مالومات)

[6]: د دویم معبد د ورانولو ورځ یهودان (تیشا باف) بولي، یهودان د قمري کال ځانګړې نېټه لري چې له عیسوي یا اسلامي نېټو سره توپیر لري، د ۲۰۲۴ز، کال د تیشا باف ورځ د اګست له ۱۲-۱۳مه نېټه سره سمون خوري. په یهودو کې ورځ له لمر پرېواته پیل او تر بل مازدیګر پورې دوام لري، نو څکه د دوو ورځو نېټې ورکول کیږي. په دې ورځ یهودان روژه نیسي، د ویر او ماتم کالي اغوندي او د معبد د ورانولو په یاد ځانګړې دعاګانې کوي، نوموړې ورځ په یهودیت کې ډېره غمجنه ورځ ده.

[7]: ندبه د ژړا مانا لري چې نوموړی دېوال د ژړا دېوال بولي او د یهودانو لپاره ډېر ارزښت لري، خپله قبله یې بولي چې یهودان په تولنه نړۍ کې د هغه دېوال پر لور خپل لمونځونه کوي. د دغه دېوال لرغونوالی دویمې مخزیږدیزې پیړۍ ته رسیږي، هغه مهال چې په کال ۷۰ ز، کې چې د روم امپراتور د یهودو معبد وراناوه، نو د معبد غربي دېوال یې د دې لپاره وران نه کړ چې یهودانو ته د رومیانو لخوا خپله دردونکې ماتې ورپه یاد وي. (انترنیټي مالومات)

[8]: جان بي ناس:تاریخ جامع ادیان. فارسي ژباړن:علي اصغر حکمت. ۵۵۵-۵۵۶مخونه.

[9]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۹/۸.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د اسراییلو وروستنی نبي ملاکي، د اسراییلو تبعید ته اشاره کوي هغه وايي چې اسراییل به د خپلو ګناهونو له امله وشړل شي:**«یهوه خدای ټول هغه کسان چې دا ډول ګناهونه یې تر سره کړي دي، هغه که کاهن وي یا غیر کاهن، له خپل قوم اسراییلو به یې وشړي.»** (د ملاکي پانې:۱۲/۲)

وړاندې له هغې چې اسراییل له فلسطین څخه وشړل شي، د اسراییلو خدای یهوه دوه ډوله ضد او نقیضې ژمنې او ګوتڅنډنې کړې وې، یهوه له یوې خوا ویلي وو چې اسراییل به د دوی د ګناهونو له امله له فلسطین څخه وشړي او په ټوله نړۍ کې به یې خواره کړي خو له بلې خوا یې ژمنه کړې وه چې له اوریشلم څخه به دفاع کوي او له خپل قوم سراییلو به داسې ساتنه کوي لکه یو شپون چې له خپلې رمې ساتنه کوي، تر دې چې یهوه خدای د فلسطین، اسراییل میشتې سیمې خپل هېواد بللی ؤ. زکریا نبي چې د پارس هخامنشي امپراتور داریوش پر مهال یې په اسراییلو کې نبوت کاوه، په دې اړه یې په خپلو لیکنو (صحیفو) کې څو ځایه لیکلي چې په لاندې توګه یې لیکو:
زکریا د یهوه خدای د پرښتې له قوله وايي چې اسراییل به دومره ډېر شي چې د اورشلیم ښار څخه به بهر له خپلو څارویو سره یو ځای استوګن شي خو دوی به په هغه ځای کې په پوره امن کې وي **«ځکه چې د دوی لپاره به یهوه خدای د اور د دېوال په څېر وي چې له دوی او له ټول اورشلیم څخه به ساتنه کوي. هغه به د ښار لویي وي.»** (د زکریا پانې:۵/۲)

**«زه [یهوه] به د خپل هېواد شاوخوا ساتنه وکړم،** ترڅو پر اسراییلو د یرغلګرو سرتېرو د یرغل مخه ونیسم، زه به په ځیر سره د دښمن خوځښتونه څارم، اجازه به ورنه کړم چې بیا ځلې پردي ستمګوونکي زما د قوم پر هېواد تېری وکړي.» (زکریا:۸/۹)

یهوه خدای وايي: «هغوی چې پر تاسو حکومت کوي زما د قهر اور به پرې بل شي، زه به دغه نر وزګړان مجازات کړم، **زه چې لوی څواکمن خدای یم، راغلی یم چې له خپلې رمې یهودا څخه ساتنه وکړم،** دوی به لکه جګړهییز اسونه غښتلي کړم، د یهودا له قبیلې به حاکمان او قومانداان پورته شي چې زما قوم رهبري کړي، هغه به په زړورتیا سره خپل دښمنان د کوڅو د ختو په څېر تر پښو لاندې کړي او په جګړه کې به ماتې ورکړي **ځکه چې زه ورسره مل یم.»** (زکریا:۳/۱۰تر۵پورې)

**«زه چې یهوه خدای یم د اورشلیم له خلکو به دفاع وکړم،** د دوی کمزوری به د داؤد پاچا په شان څواکمن وي او د داؤد سلطنتي نسل به د خدای او پرښتو غوندې وي، یهوه خدای به د دوی مخکې مخکې درومي ځکه چې زما هوډ دادی چې ټول هغه قومونه چې د اورشلیم جګړې ته راځي له منځه یوسم.» (زکریا:۱۲/۸-۹)

زکریا نبي وايي چې **«یهوه خدای به خپل قوم د جګړې پر مهال رهبري کړي،** خپل غشي به د آسمان د برېښنا په څېر خوشې کړي. یهوه خدای به د جګړې برغو وغږوي او د بوربوکۍ په څېر چې له جنوبي دښتې پورته کیږي، د دښمن جګړې ته ورځي، **هغه به له خپل قوم څخه دفاع وکړي** او خپلو دښمنانو ته به ماتې ورکړي، د خپلو پښو لاندې به یې چت پټ کړي، د بریا خوند به وڅکي او د خوشالي نارې به پورته کړي، خپل دښمنان به ووژني او ځمکه به د دوی پر وینو ډکه کړي، **په هغه ورځ به د دوی خدای یهوه له دوی څخه داسې ساتنه وکړي لکه شپون چې له خپلې رمې ساتنه کوي او خپل قوم به وژغوري.»**(زکریا:۹/۱۴تر۱۷پورې)

لکه څرنګه چې یهوه خدای ویلي وو چې له خپل قوم به کلکه دفاع کوي، دفاع یې ونه کړه، یا دا چې دفاع یې ونه کړای شوه، د دویم معبد د ورانولو او د اسراییلو د شړلو په پرمهال یهوه خدای ورک شو، داسې ښکاري چې د اسراییلو خدای یهوه لکه څرنګه چې ارمیا نبي ویلي وو ستړی او بې څواکه شوی وي، ارمیا نبي ویلي وو:«ای د اسراییلو هیلې، ای چې د سختۍ او تنګۍ پر مهال زموږ ژغورونکی یې، ولې د یو غیراسراییلي (غریب) او یو مسافر په څېر (چې د شپې لپاره له موږ سره پاتې کیږي) له موږ څخه پردی شوی یې؟ **آیا ته هم ستړی یې؟ آیا ته هم د یو جګړهمار غوندې بې دمې شوی یې چې له لاسه یې هېڅ نه کیږي؟»** (د ارمیا کتاب:۸۹/۱۴)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



(په لبنان باندې د اسراييلو دولتي ترهګر بريدونه دوام لري، ښځې او ماشومان شهيدان شوي دي.)

نېټه:۱۴۰۳/۷/۱۳ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ